مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۲/۱۲/۲۵

# بست کلا وپیژنئ

د بست کلا زمونږ د هېواد جنوب لوري ته د هلمند ولایت د بست په سیمه کې یوه لرغونې کلا ده، چې د هلمند او ارغنداب سیندونو په یوځای کېدونکي نقطه کې له خپل برم سره موجوده ده.

یاده کلا چې له پورتنی برخې یې ټول لښکرګاه ښار معلومیږي په یوه غونډۍ جوړه شوي ده.
د بست کلا د افغانستان او آن د نړۍ په تاریخ کې ځانګړی نوم لري او ویل کیږي، چې یاده کلا د اسلام مبارک دین له ظهور نه وړاندې جوړه شوې؛ خو په دې اړه ځینې نور تاریخي روایات هم شته او دا ادعا هم کیږي، چې یاده ستره کلا نوشیروان پاچا جوړه کړې وه. د دې ترڅنګ ځینې تاریخي متنونه ښیي، چې بست کلا د عیسی علیه السلام له پیدایښت نه ۳۰۰۰ کاله وړاندې جوړه شوې ده، چې له دې ټولو روایتونو د دغې ویاړمنې کلا تاریخي قدامت او لرغونتیا څرګندیږي.

که د بست کلا له نیږدې ولیدل شي؛ نو هر لیدونکی به په دې پوه شي، چې یاده کلا په ډېر مهارت او ظرافیت سره د هغه وخت انساني زیار پر بنسټ جوړه شوې، چې په ښکلي هنري ذوق سره پکې د خټو او تیږو خښتې هم لګول شوې دي.

د کلا د دیوالونو پلنوالی له ۶ مترو زیات دی او ویل کیږی، چې په دغو دیوالونو به اسونه، ګاډۍ او سرتیري د کلا له یو سره تر بل کونجه تلل.

د بست کلا مخ ته د نړۍ د عجایبو نه یو ډېر غټ ښیښک یا کمان ښ دی، چې دومره غټ کمان د نړۍ په هیڅ تاریخي اثارو کې نه دی لیدل شوی.

د لرغونو داستانونو پر بنسټ بست کلا په خپل وخت کې ستر اهمیت او ستراتیژیک رول درلود، چې سمسور باغونه، تجارت خونې، کاروان سرایونه او بازارونه یې درلودل. دغه کلا د ګڼې ګوڼې ځای وو، چې څو ځله د یرغلګرو له لوري ورانه شوې؛ خو د وخت افغاني شاهانو یې په بیا مرمت او جوړولو لاس پورې کړی او اوس یې هم ډېرې برخې روغې دي، چې د افغانستان په تاریخي ابداتو کې یې د زیاتوالي یوه بله کربنه کښلې ده.

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ